سال چهارم شماره ۱۰
شماره‌ء مسلسل ۳۶۹
چهارشنبه ۱۷ جدی ۱۳۸۲هـ ش
۱۵ ذوالقعده ۱۴۲۴هـ ق
7 January, 2004

PROPERTY OF ACKU

DAILY اراده

د افغان نشراتي مركز ملي خپلواكه ورځپانه

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER
AMRC
سال تاسيس ۱۳۷۹هـ ش

په کندهار کې لس تنه ووژل شول

دکندهار په ښار کې پرون غرمه دوه چاودني وشوې چې دلومړنیو راپورونو له مخې لس کسان پکې مړه او کابو (۲۷) تنه ټپیان شوی دی ویل کیږي دقربانیانو زیات شمیر ماشومان او ښځې دي : داسې باور دی چې یو بم دمیوې په توکرۍ کې او بل بم فکر کیږي چې په ځمکه کې پټ اینبودل شوی و. په ښار کې

دبمونو چاودني

استخباراتي اداري ویلي امریکایي ځواکونو په هغه سیمه کې چې پکې چودني رامنځ ته شوي لارې کوڅې ترلي دي. دمیرویس په روغتون کې داکتران وایي چې دزیاترو ټپیانو دژوند حالت خورا ترینګلی دی.

کندهار دطالبانو غښتلی مرکز و چې تر دې دمخه دچاودنو پړه هم طالبانو په غاړه اخیستې وه. تردې دمه څرګنده نده چې دوروستیو چاودنو تر شا دچلاس دی خو امنیتي ځواکونو یو شکمن کس دپښتي له ځي سره نیولی او دهغه تابعیت یې افغان ښودلی دی.

امریکایی ځواکونو ځینې کسان نیولي دي

امریکایی ځواکونو دزابل په ولایت کې هغه کلابندی ماته کړې چې ولایت اوامنیت قوماندانی یې په کړی کې راوستې وه.

وړمه ورځ هغه مهال په زابل کې د نوموړی ولایت د ولایتی چارواکو او امنیتی قوماندانی ترمنځ شخړه په جګړه بدله شوه چې ولایت دقوماندانی دامنیتی مسوولینو دبې وسلې کولو هڅه کوله. پدغه پېښه کې دزابل ولایت د(۲۷) پلې فرقې قوماندان سالم خان توخی له ځو تنو امنیتی ساتونکو سره چې دجګړې دمخنیوی هڅه یې کوله ووژل شول. امنیتی ځواکونو تردې مهاله دنیول شوو کسانو په اړه څه نه دی ویلي.

د لوی او ښبونکی خدای په نامه
سرمقاله

د استخباراتو او ولس ترمنځ د نږدیوالی اړتیا

موږ په ډیرو حساسو شرایطو کې د هیواد د بیا جوړولو او د نړۍ له پرمختللی حرکت سره د یوه سوله ییز او امنیتی ژوندانه په شرایطو کې د ځان برابرولو په برخه کې کامونه پورته کوو.

په هیواد کې د همدغې پورتنی موخی د لاسته راوړلو او د ټولو هیوادوالو لپاره د ملی یووالی په رامنځته کولو کې د یوه نیکمرغه ژوندانه د جوړولو لپاره دادی اوس پدی ورځو کې د هیواد د استازو له خوا د یوه با ثباته اساسی قانون په جوړولو پداسی شرایطو کې بریالی شوی یو چې د هیواد په بیلابیلو سیمو کې د القاعده او تروریستی عناصرو د ښکاره او پټو بریدونو. ترور او تښتونی او دغه راز په کمین کې د هغوی د کیناستلو چاری روانی دی.

که څه هم دلته د دولت د مشری او پوځی چارواکو له خوا کله نا کله د القاعده او تروریستی ځواکونو په مقابل کې د مخامخ نښتو په وړاندی د بری د ترلاسه کولو خبری اوریدل کیږی خو باید ووایو چې تخریب کاره عناصر لا اوس هم د معلوم الحاله ګاونډی هیواد لخوا د پرون په څیر بیا په مادی او پوځی مرستو سره سنبال او د هیواد دننه ته بیا د ورانی او تخریب لپاره رالیږل کیږی.

پدی وروستیو وختو کې د نوموړو عناصرو له خوا د هیواد په بیلابیلو سیمو کې د تښتونی او بمونو د ایښودلو د نورو ځان وژونکو بریدونو شاهد یو دبمونو چاودولو او ځان وژونو پیښو کیدنه له ولایتونو څخه د هیواد مرکز ته هم راورسیده. که چیری زموږ استخباراتی مرکزونه تر پخوا لا زیات د تخریب کار و عناصرو د نیولو لپاره خپلی هڅی زیاتی نه کړي او په ولسونو کې خپل ارتباطی کسان لا زیات نه کړی ویلای شو چې د تخریبوونکو تخریبی پلانونه به د هیواد په مرکز او ولایتونو کې د دښمن په ګټه د ویرونی فضا رامنځته کړي او بیا به په داسی شرایطو کې زموږ نوی او جوړوونکی حرکتونه ځای په ځای ودریږی او د هغو د زهرجنو تبلیغاتو او ویری اچونی لپاره به بیا د هغوی په ګټه شرایط برابر شي ځکه خو پدی شرایطو کې تر بیا رغاونی امنیتی مسایل د هیوادوالو لپاره د یوی نیکمرغی راتلونکی په خاطر ډیر مهم بلل کیږی. موږ هغه وخت د خپلو اوسنیو جوړوونکو پلانونو په برخه مې بری تر لاسه کولای شو چې د دولت او خلکو ترمنځ د باور او متقابل درناوی فضا رامنځته شي او د خلکو روا غوښتنی چې له حکومتی چارواکو څخه یې لری سرته ورسیږی کله چې دولت او خلک سر یوشی نو بیا په هغی صورت کې د تخریبی عناصرو فعالیتونه شنډیږی او خپل پدل له لاسه ورکوی او د هغوی فعالیتونه په خپله نطفه کې له منځه تللای شي.

ابراز نگرانی از مصئونیت ملالی جویا

نماینده گان شرکت کننده در لویه جرگه تصویب قانون اساسی که در میان آنها ملالی جویا نیز دیده می شد دیروز وارد شهر فراه شدند. از ورود این نماینده گان هزاران مرد و زن استقبال کردند در میان استقبال کننده گان والی و برخی از مسوولین ولایت فراه نیز دیده می شدند. ملالی جویا در حالی به فراه برمی گردد که یک مسوول امنیتی در مورد مصئونیت او ابراز نگرانی کرده است.

وی همچنان گفته است، در راه پیمایی که چند روز پیش علیه ملالی جویا در شهر فرا راه اندازی شده بود برخی ها می خواستند منزل و موتر او را آتش بزنند. او همچنان افزود برخی عناصر حزب اسلامی حکمتیار و طالبان در پی آن اند تا به ملالی جویا صدمه وارد کنند.

ملالی جویا نماینده ولایت فراه در چهارمین روز برگزاری لویه جرگه اظهاراتی کرد که برخی از نماینده گان آنرا اهانت به مجاهدین خوانند.

دښادر شاه کوټ په ولسوالی برید

دخوست ولایت دښادر شاه کوټ په ولسوالی باندې دناڅرګندو کسانو له خوا برید شوی. ویل شوي په پیښه کې څوك نه دی وژل شوي خو امنیتي چارواکو دا دامنیت دګډوډولو یوه هڅه بللې ده.

خوست یوله هغو ولایتونو څخه دی چې دطالبانو پلویانو دګلبدین حکمتیار سرتیرو اودولت دناراضیانو شمېره پکې خورا زیاته ده او تل هڅه کوي چې دولتی اداري، هوایي ډګر دایتلافی ځواکونو مرکزونه اود ولتی پولیس تر بریدونو لاندې ونیسی.

انتقاد از برخورد استرالیا در رابطه باپناهجویان

مقامات در جزیره نارو از نحوه برخورد استرالیا با اعتصاب غذایی پناه جویان درین جزیره که درخواست پناهندگی شان در حال بررسی است بشدت انتقاد کرده است وزیر مالیه نارو می گوید که استرالیا مراقبت صحی کافی را برای اعتصاب کننده گان فراهم نکرده است، گزارش شده که برخی ازاین اعتصاب کننده گان که وضع شان وخیم است در شفاخانه بستری هستند.

نزدیک به ۳۰۰ نفر که اکثر شان افغان اند در جزیره نارو به سرمی برند آنها بر اساس برنامه که مانع ورود مهاجرین غیر قانونی به استرالیا می شود دراین جزیره نگهداری می شوند بیشتر از ۳۰ نفر آنان قبل از عید کرسمس اعتصاب غذایی را آغاز کردند به امید اینکه حکومت استرالیا را وا دارند تا آنها را قبول کند. برخی از آنان لب های شان را دوخته اند، گزارش شده که شش نفر آنها شدیداً بیمار هستند.

یو مړ او څلوېښت تنه ټپیان شول

دجلال اباد ـ تورخم په لویه لاره دوو مسافر وړونکو موټرو دټکر له امله یو تن مړ او (۴۰) تنه نور ټپیان شول.

دروغتیا کارکوونکو په وینا دټپیانو له جملې څخه دلسو تنو حالت دانديښنې وړ دی. پیښه د باریکاو په سیمه کې رامنځ ته شوه او چارواکی یې لامل ددواړو موټرونو ګړندی سرعت ښودلی دی.

دمعمول په توګه دغه راز ترافیکی پیښې چې مرګ ژوبله هم ورسره وی هره ورځ دکابل ـ کندهار په لویه لارې هم پیښیږي. د ډیرو له انده اصلی ستونزې دچپ اشترنګ موټرونو چلول او ګړندی تګ بلل شوی دی.

شصت در صد خواست های ما در نظر گرفته شده است

حدود بیست نفر از نماینده گان لویه جرگه تصویب قانون اساسی گفته اند که فقط ۶۰ درصد از خواسته های آنها در قانون اساسی جدید در نظر گرفته شده است. حفیظ منصور نماینده لویه جرگه که از سوی نماینده گان صحبت می کرد ایجاد یک شورای حفاظت از قانون اساسی، انتخاب والی ها از سوی شورا های ولایتی و نشر پول از طرف پارلمان را از خواسته های شمرد که در قانون اساسی جدید پیش بینی نشده است. برخی از نماینده ها قبلاً گفته بودند که قرار بودحامد کرزی رئیس دولت انتقالی افغانستان زبان سرود ملی افغانستان را پس از انجام کار لویه جرگه به دو زبان دری و پشتو اعلان کند اما چنان که بعداً اعلان شد سرود ملی تنها به زبان پشتو است.

باز تاب قانون اساسی افغانستان در آلمان

مقامهای بلند پایه آلمان و رسانه های این کشور در اظهارات و تحلیل های خود تصویب قانون اساسی افغانستان را نشانه برجسته یی از همگرایی و بلوغ فکری اقوام افغان و اراده ملت افغانستان برای ایجاد یک کشور با ثبات با نظام دموکراسی نامیده اند. نتیجه پایانی اجلاس لویه جرگه و تصویب قانون اساسی در آلمان بازتاب گسترده یی داشته است.

دولتمردان آلمانی حاصل سه هفته تلاش و بحث های نمایندگان اقوام واقشار افغان را که در قانون اساسی بازتاب یافته است به آقای حامد کرزی رئیس اداره موقت افغانستان تبریک گفته وـــ ص۴

د اوبو زوړ ویش بیا نوی کتنه غواړي

سهراب دیدار

زموږ هیواد د کرنې او اوبو د زیرمو په برخه کې پوره او ډاډه منابع لري که چیرې د کرنې او اوبو د پرمختللو او علمي معیارونو څخه په خپل خپل وخت استفاده شوې وای اوس به د کرنې اواوبواو ورسره د برېښنا په برخه کې زموږ ستونزې له منځه تللې وای.

خو له بده مرغه چې زموږ په هیواد کې د کرنیز سیستم او خړوبولو د وروسته پاتې والي سره سره تیرو اوږدو جګړو او وچکالیو زموږ د کرنې په برخه کې ډیرې او جبران نه منونکي ستونزې او زیانونه رامنځته کړي دي. تیرو جګړو افغاني ټولنه داسې بوخت وساتله چې موږ ونشو کړی دکرنې په برخه کې د نړۍ د پرمختللي کرنیز سیستم د عاملو او دودولو په برخه کې رغنده او انکشافي پروګرامونه تر لاس لاندې ونیسو د تیرو جګړو په اوږده بهیر کې د سیلابونو اوسختو موسمي بارانونو اوله هجرت څخه د راپیدا شوو ستونزو له امله چې اکثره هیوادوال له خپل پلرنی هیواد څخه جبراً هجرت ته مجبور شول زموږ په کلیوالو سیمو کې اکثره سربندونه له منځه لاړل او له دښتي ځمکو برسیره آبي کرنیزې ځمکې مو هم په شاړو او میرو بدلې شوې زموږ په هیواد کې ۳,۸۷ میلیونه هکتاره کرنیزې ځمکې چې تر جګړو پخوا موجود وې ۱,۹ میلیون هکتاره ته راټیټې شوې د غنمو د کر ځمکې له ۲,۳ میلیون هکتارو څخه ۱,۶ میلیون هکتارو ته ټیټې شوې.

اوس زموږ په کلیوالو سیمو کې له یوې خوا په عمومي ډول د اوبو اندازه کمه شوې ده له بلې خوا په پخوا وختونو کې د اوبو په سیمه ییز ویش کې د نفوذ د څښتنانو له خوا د خپلو ځانونو لپاره د کمو ځمکو په سر ډیر اوبه تر خپلې خیټې لاندې کړې دي. ان چې په زیاتو وختو کې زموږ غریبو خلکو د همدغه اوبو د ویش په باره کې د زور زیاتي او زیاتو اوبو داخیستلو په برخه کې په جګړو اخته شوي دي او ان چې مرګونه او ستری دښمني په کې رامنځته شوی او د کورنیو د دربدري سبب شوی او هجرت ته اړ شوي دي.

اوس چې په هیواد کې د ژوند په ټولو برخو کې د بیا رغاونې په لور ګامونه پورته کوو لازمه ده چې د اوبو لګولو وزارت اړوندې اداری د نورو بیا رغاونو تر څنګ د اوبو د پخواني ویش په هکله نوی نظر وکړي ونډونه رنګ او د ځمکو مالي په حکومت کې د ثبت شوی اندازې له مخې دهرې کورنۍ د رسمي او قید شوي مالیاتي جریب په سر د اوبو د ویش لپاره نوی ونډونه جوړ کړي څو دهیواد په ټولو کلیوالي سیمو کې د دغه زوړ ویش په برخه کې رامنځته شوی ستونزې حل کړو. او په ټولنه کې د جګړو د رامنځته کیدو دعلتونو د له منځه وړلو په برخه کې اغیزمن ګامونه پورته کړو.

موږ د اوبو لګولو د وزارت پاملرنه یو ځل بیا په کلیوالو سیمو کې د دغې پرتې ستونزې د له منځه وړلو لپاره اړوو. دا کار به نه یوازې د کلیوالو ترمنځ د جګړو مخه ونیسي بلکې د هرې کورنۍ دهر جریب د اوبو د استحقاق او د ځمکو دمالیې د بیا ورکړې په برخه کې به لازمی او اقتصادي ګټې رامنځته کړي او په هیواد کې به د اولسي شخړو د یوې برخې مخنیوی وکړای شو.

مرستندویه موسسې په آخر خپل فعالیتونه ودروي

اباسین

د تیری یکشنبې په ورځ د زابل په ولایت کې نامعلومو کسانو د امریکا د متحده ایالاتو د یوې غیر دولتي مرستندویه ټولنې شلتړناو یو کارکوونکی له خپل موټر سره د یو کاروان له سر نه وتښتاوه په سیمه کې دولتي چارواکو تائید کړه چې برید کوونکي کابو شل تنه وو او لاره یې محاصره کړې وه دا په زابل ولایت کې د تیرو دوو میاشتو په دوام کې دریمه پیښه ده، یو ترکي انجنیر هم د روژې په میاشت کې د شکمنو طالبانو په ګنجو کې کیوت ددغې قضیې په سپینولوکې د مقاماتو لاس لنډو ځکه جوته نه وه چې هغه خوا به له کوم، قوماندان، پهلوان یا اخوند سره بندي و، خو تر یوې میاشتې وروسته نوموړی روغ رمټ را خوشې شو، بیا د پاکستان له کوم سنګر څخه د طالبانو یوویاند په ډاګه کړه چې هغه یې پدې ګمان پرایښی چې مسلمان دی، خو د همدې میاشتې په سر کې د زابل په ولایت کې دوه هندي انجنیران د نامعلومو کسانو له خوا برمته شول.

دا ځل پیښې بل رنګ درلود هم برمته کوونکي معلوم و هم یې مرکز. قومي سپین ږیرو هڅې پیل کړي چې دواړه هندي اتباع چې ویل کیږي مسلمان هم نه وو ژوندي له لومو آزاد کړي.

نوموړو وکولای شول چې هندي انجنیران لکه امانت له شکمنو کسانو راخلاص کړي او بالاخره یې ځای ته ورسول. شکمن طالبان یا په بل نوم د دولت نارضیان اوس له سمڅو او غرونو څخه عملیات نکوی، هغوی ډاډه دي چې په هر وخت او هر ځای کې د چریکي جګړو د مخنیوی لپاره خنډونه نشته په همدومره اطمینان یې څه موده وړاندې د غزني په ښار کې په سپینه ورځ د ملګرو ملتونو د کډوالو د اداری یوه فرانسوی کارکوونکې میرمن بتیناګوارسلا ووژله. دا نوری ذکر شوی پیښې هم د کابل - کندهار په لویه لار په رڼا کې تر سره شوی دي او دسیمې د خلکو له انده کیدلای شي په ورته شکل پیښې په سویل لویدیځ کې نور هم زور واخلي.

د بهرنیو مؤسسو اداری به د ډیر مجبوریت له وجې د ملګرو ملتونو د سازمان په څیر وکولای شي خپل ټول بهرني کارکوونکي له دغو سیمو ټول کړي او آن دا چې خپل دفترونه به وتړي اما د افغانستان دولت او ملت به څومره تاوان کړي وي؟ ښکاره ده چې په درانده وزن زیان به ووینو، دا داسې قضیه ده چې یوازې دولت یې د حل لپاره لاری لري اما پخپله دولت هم په شعوری توګه تیروتنی تکراروی. امنیت نشته او د امنیت د ټینګښت لپاره داسې سیمه ییزه ځواکمن قوماندان کارکوی چې پخپله د قتلونو او غلاوو په تورونو کې ککړ دي په میدان وردګو کې د یوی لاری پوستی د سیمه ییزه جنګسالارانو د ظلمونو او خودمختاریو محصول دي. د لویو لارو د لوا سرتیری په خپل کم تعداد کله هم د داسې ناروا وو مخه نشي نیولی، نه پولیس شته او نه د امنیتي مسئولینو په کار او فعالیت څارنه، او په نتیجه کې د ملت د صبر او زغم قوه هم مخ په ختمیدو ده، ولس د دولت سره د ملاتړ رسۍ ورو ورو خوشي کوي او په د مرکزي اداری اعتبار لړ شوی دی ځکه هغوی دخپل سر دخوندی‌توب لپاره هم یوی ناراضه ډلی ته لاس ورکوي. ځواکمنو قوماندانانو او ولسوالانو قومي اړیکی تر دی بریده رسولی چې په لوی لاس په خپلو سیمو کې تروریستان وزیږوی. او په نهایت کې بهرنی مؤسسی او دولتونه په دومره زیات شمیر او پراخه پیمانه د سرونو قربانۍ ته تیاریدای نشي که دولت د هیواد بیارغونه غواړي، او که مرکزي دولت د ولس ملاتړ او خپله بقا غواړي پکار دی په خورا بیړنی توګه په سویل او سویل لویدیځو سیمو کې د ټینګ امنیت او د بهرنیو مؤسسو دکارکوونکو د ژوند د خوندي ساتلو لپاره ګرندي ګامونه واخلي او د لویو لارو لپاره نوي پولیس هغه چې نوي روزل کیږي او ګمرکونه ته استول کیږي نوی ډلي پدی برخه کې په فعالیت وګماري.

تأمین وحدت ملی را در روشنی عدالت باید جستجو کرد

رسول

در بسا خبر ها، گزارش ها و بیانیه ها و خطابیه های بزرگان منتشره در مطبوعات کشور همواره روی این نیاز مبرم ملی تاکید می شود که در اول باید وحدت ملی تامین گردد ولی کسی راه و طریقه تامین وحدت و یک پارچگی ملی را بطور مشخص ارایه نمی دهد.

کمتر کسی پیدا خواهد شد که به اهمیت و ارزش اتفاق و اتحاد مردم در بهتر زیستن، رفاه وآسایش عامه و ترقی اجتماعی و اقتصادی و فرهنگی و غیره پی نبرده باشد، در گفتار، همه از خواص تا عوام از خُردان تا بزرگان و همه تاکید می ورزند که باید همه ملت بدور یک محور آرمانهای ملی متحد شوند.

مردم ما آیات متبرکه قرآن مجید، احادیث نبوی، مقوله ها، ضرب المثل های وطنی و و جیزه ها را خوانده، شنیده و چیزی را به خاطر سپرده اند که هرکدام روی وحدت مردم، اتحاد و اتفاق مسلمانان یک کشور و مسلمانان همه جهان تاکید دارند ولی چیزیکه کمتر در بین مسلمانان جهان و مسلمانان کشور ما کمتر به ملاحظه می رسد روحیه همکاری با یکدیگر در کارهای خیر میباشد.

بسادیده می شود که از سکوی قدرت بر مردم غریب و بینوا صدا زده می شود که برادران و خواهران متحد شوید ولی این گفته نمی شود که متحد شدن برای رفتن در کدام راه و جهت بدست آوردن کدام مقصد که نفع آن فوری و بالفعل برای قاطبه مردم طرف خطاب ما باشد.

ساده حرف را از اتحاد و اتفاق دو برادر شروع می کنیم، هرگاه دو برادر دارایی پدر را مساویانه بین خود تقسیم نمایند، متحد و برادر اند ولی هرگاه یکی زور مند بر دو می چیره گی کند و بیشتر از آن چه حق او میباشد بستاند، جنگ بین دو برادر آغاز می شود که یا باید یکی بمیرد و یا هردو به حق خود برسند، در غیر آن اتحاد و اتفاق آنان تامین نمیشود.

همچنان در بین خانواده اگر عدالت از طرف رییس فامیل در برابر اعضای خانواده مراعات شود و یکی بردیگری رحجان داده نشود، بدون تردید وحدت خانواده و فضای صمیمیت آن پا بر جا و تامین است.

در جامعه هم، هرگاه زورمند بر ضعیف مدا را کند و آنچه را از داشته های دنیا برای خود می خواهد برای دیگران نیز بدهد، بدون تردید اتحاد جامعه تامین می شود. و ملت بزرگان عادل، متواضع و پاک نفس خود را چون مردمک چشم می انگارند و بر شانه ها می گردانند.

ما از تاریخ گذشته جهان و کشور خود از طریق خواندن و شنیدن چیزهایی را شنیده ایم تا زمانیکه حکومت بهر اسمی و رسمی که بوده و ازسیری و گرسنگی خورد ترین عضو جامعه در دورترین نقطه قلمرو خود آگاه بوده و به داد او رسیده است، وحدت جامعه شکننده نه بلکه روز تا روز تامین شده وهمه با اتحاد نظر و اتحاد عمل در اقتصاد، ثروت آفرینی و فرهنگ عالی دست یافته اند، که حتی باعث شگفتی همسایگان خود شده و دیگران به پیروی از آن اقدام کرده اند.

ACKU

ورزش ضامن تندرستی

پایان مسابقات خزانی فتبال ۱۲۰ تیم در شهر کابل

مسابقات خزانی فتبال بین تیم های اطفال و نوجوانان شهر کابل که شامل ۲۰ تیم از لیسه های شهر کابل و ۱۰۰ تیم آزاد پایان یافت.

ششم جنوری مطابق شانزدهم برج جدی سال روان آخرین مسابقه بین تیم های گروپ ((سی)) تیم کارته نو ناحیه هشتم و تیم کارته سه مربوط ناحیه ششم در غازی ستدیوم دایر و جمع کثیری از علاقمندان و فوتبالران غرض تماشا حضور به هم رسانیده بودند.

محترم نجیب الله (ناصری) کوردیناتور موسسه حمایه اطفال امریکا با ذکر مطلب فوق افزود:

بخاطر رشد استعداد ها و تشویق اطفال و نوجوانان زیرسنین هجده طبق معمول همه ساله تورنمنت های بهاری و خزانی مسابقات فوتبال را به همکاری ترینران فوتبال در سطح شهر کابل دایر مینماییم، به این منظور شهر کابل را به چهارزون شرق، غرب، شمال و جنوب که شامل نواحی شانزده گانه شهر کابل میشود تقسیم، درگام اول تیم های مربوط هر زون بین خود مسابقه نموده و بعداً تیم های برنده هر زون با تیم های برنده زون های دیگر مسابقه میدهند در تورنمنت خزانی امسال از چهارزون تیم های به شرح ذیل برنده مسابقات گردیده اند:

از گروپ بی:

- تیم کارته نو مربوط ناحیه هشتم حایز مقام اول
- تیم لیسه عبدالعلی مستغنی مربوط ناحیه ششم حایز مقام دوم
- تیم حصه اول خیرخانه مربوط ناحیه یازدهم حایز مقام سوم

- و از تیم های گروپ سی:

- تیم کارته سه مربوط ناحیه ششم حایز مقام اول
- تیم کارته نو مربوط ناحیه هشت حایز مقام دوم
- تیم لیسه غازی ادی حایز مقام سوم

برای تیم هائیکه در ردیف اول، دوم و سوم احراز موقف نمودند، جوایز و کپ های قهرمانی توزیع شد.

تیم کرکت جوانان عازم هندوستان شد

تیم کرکت جوانان زیر سنین ۱۷ سال به دعوت کشور هندوستان بخاطر شرکت در تورنمنت آسیایی کرکت روز پنجشنبه ۱۱ جدی عازم آنکشور گردیدند.

این مسابقات از ۲ جنوری تا هفده جنوری در کشور هندوستان تدویر می یابد اعضا و مربیان تیم قرار ذیل معرفی شده اند:

محترم الله داد معاون فدراسیون بصفت رئیس تیم! محترم رئیس خان ، محترم عبدالخلیل "پیک" محترم تاج ملوک "عالم" ، محترم محمد نبی "احمدزی" ، محترم عبدالرشید "ځدران" ، محترم کریم "صادق" ، محترم حشمت الله پنجشیری" ،

محترم سمیع الله "شینواری" ، محترم تواب "ظفرزویی" ، محترم محمد اصغر "ستانکزی" ، حامد خان "مومند" ، احسان الله "احسان" ، محمد هارون "حبیبی" ، پامیر "حسینی" بشیر "ستانکزی" ، امان الله "ځدران" ، نورعلی "نوری"، محمد نقیب "احمدی"

نتایج (مسابقات جالب فتبال)) در این هفته

به سلسله مسابقات فتبال انتخابی زیر سن ۱۷ سال که میان ۳۲ تیم زیر نظر فدراسیون فتبال در استدیوم ورزشی کابل تدویر گردیده تاکنون نتایج آتی بدست آمده است:

۱_ جوانان میهن مقابل جوانان سباوون ۲ مقابل ۱ جوانان میهن غالب

۲ - جوانان شاه شهید مقابل جوانان توحید صفر مقابل ۲ جوانان توحید غالب

۳_ جوانان خاور مقابل جوانان شمشاد ۲ مقابل ۱جوانان خاور غالب

۴_ جوانان سباوون مقابل جوانان یاور ۶مقابل ۱ جوانان سباوون غالب.

۵_ جوانان شعاع مقابل جوانان خیبر افغان صفر مقابل صفر مساوی

۶_ جوانان امید میوند مقابل جوانان میوند ۱ مقابل صفر جوانان امید میوند غالب.

۷_ جوانان انصاری مقابل جوانان آزادی صفر مقابل صفر مساوی

۸_ جوانان عدالت مقابل جاویدان ۳ مقابل صفر جوانان عدالت غالب.

۹_ جوانان پامیر مقابل میوند ۲ مقابل صفر جوانان پامیر غالب.

۱۰_ جوانان زحل مقابل جوانان ساحل ۴ مقابل صفر جوانان زحل غالب.

۱۱_ جوانان توحید مقابل جوانان نورستان ۱ مقابل صفر جوانان توحید غالب.

۱۲_ جوانان دانش مقابل جوانان ۱۲ ستاره ۱ مقابل صفر جوانان دانش غالب.

۱۳_ جوانان باختر مقابل جوانان هدف ۲ مقابل صفر جوانان هدف غالب.

۱۴ _ جوانان صلح مقابل کابل کلپ ۳ مقابل صفر جوانان صلح غالب.سلسله این مسابقات در استدیوم ورزشی کابل از ساعت ۹ صبح و ساعت۲ ظهر ادامه دارد.

عبدالرحمن "ولیزاده"

یوه ورځ انسان باید له خپلی دندی سره مخه ښه وکړي.

د هسپانیې د اف سي بارسلونا د کلپ ترینر والیرو ریویرا ورسته له شلو کلونو څخه د خپلی دندی لاس واخیست نوموړی چې د نړۍ د پیژندل شوو ترینرانو له جملی څخه دی د ۱۹۸۳ میلادی کال راهیسی د بارسلونا د کلپ لپاره۶۹ ورزشی جامونه کټلی دی چې د هغو له جملی څخه یې شپږ ځلی یې د اروپا د فوتبال د آزادو کلپونو د جام قهرمانی چې چمپین لیگ ورته وایی کټلی ده په داسی حال کې چې ریویرا سترګی د اوښکو ډکی وی ویی ویل: یوه ورځ نه یوه ورځ انسان باید له خپلی دندی سره مخه ښه وکړی نوموړی دیارلس کلن و چې د هسپانیې د بارکا دفوتبال په تیم کې لوبه پیل کړه او په دیرش کلنی کې یې ترینری ته مخه کړه او دادی اوس یې د ۲۰۰۴ میلادی کال په پیل کې خپلی دندی څخه ګوښه کیدل اعلان کړل.

سیالی او د یووالی روحیه

له درویشت کلنی جګړی څخه چې زموږ د هیواد او خلکو دژوندانه په بیلابیلو برخو کې د بیا رغاونی لپاره اړتیا محسوسه شوه پدی شرایطو کې تر هر څه لومړی باید زموږ په تاتوبی کې فکری او ټولنیز یووالی او د باور فضا رامنځ ته شي او پدی برخه کې د بیارغاونی لپاره هڅې وشي. او دا کار زموږ د هیواد د وګړو د ملی وحدت د لانور یووالی دټینګتیا سبب ګرځی ددغه یووالی او په تیره بیا د ځوانانو ترمنځ د ټولنیزی روحیی د پیداکولو او فکری تبادلی لپاره د المپیك ریاست کولای شي چې په دی کار کې مهمه ونډه واخلی ځکه د المپیك ملی کمیته کولای شی چې د ولایتونو د لوبغاړو ترمنځ یو لړ لوبی ترتیب او تنظیم کړي چې د یو ولایت لوبغاړی د لوبو لپاره بل ولایت ته د دوستانه لوبو لپاره واستوی داکار به زموږ د لوبغاړو ترمنځ د سپورټ په برخه کې یو سالمه سیالی پیدا کړی او بل دا چې لوبغاړی به د خپل هیواد د بلی سیمی د کلتور او رواج سره له نږدی پیژندګلوی پیدا کړی نو موږ د المپیك د ملی ریاست نه په دی برخه کې د لازمو اقداماتو غوښتنه کوو. زموږ هیواد د تیرو جګړو په اوږده بهیرکې د ځینو خپل غرضو د آګاهانه لاسوهنو له امله د بی اتفاقی په ژور ډنډ کې ورلویدلی دی اوس د هیواد په اوسنیو شرایطو کې لازمه ده چې د هیواد والو ترمنځ د یووالی روحیه پیاوړی شي او پدی کارکې تر ټولو د ځوانانو دنده ده چې یووالی رامنځته کړي. د سپورټی لوبو او سیالیو پواسطه کولای شي ددغه هدف دسرته رسولو په برخه کې بری ته ورسیږي.

یو تن مر او اوه تنه ټپیان شول

د ټکی یا تالنډی د راولیدو له امله دفوټبال یو ننداره کوونکی هغه وخت ووژل شو او اوه تنه نور ټپیان شول چې د نوی کال د رارسیدو په ویاړ یې په سویس کې د فوټبال د مسابقی ننداره کوله د سویس د ټایمز ورځپاڼه لیکی یو دوه پنځوس کلن سړی په داسی حال کې چې د سیمه ییز فوټبال د لوبی په ننداره بوخت و ټکه یا تالنده او بریښنا دده د وژلو سبب شوه او هغه اوه تنه ټپیان چې روغتون ته وړل شوی وو بیرته رخصت شول.

ورزش کار افغانی با مدال برونز برگشت

بر اساس دعوت فدراسیون کورس جمهوری اسلامی ایران دو تن از ورزشکاران کورس کشور تحت ریاست سیدمحمود ضیا "دشتی" معاون کمیته ملی المپیک در سومین دور مسابقات آسیایی اشتراک ورزیدند.

این مسابقات از تاریخ ۱۶ الی ۱۸ دسمبر در شهر تهران راه اندازی شده بود که در آن تیم های کورس ۱۶ کشور آسیایی اشتراک داشتند.

دست آورد ورزشکاران افغانی در این مسابقات یک مدال برونز بود که عبدالبصیر منان در کلاس ۶۶ کیلو گرام به اخذ آن نایل گردید.

همچنان طی این سفر، رئیس فدراسیون کورس با اشتراک در سومین کانگرس ورزش کورس کشورهای آسیایی پشتیبانی و حمایت فدراسیون آسیایی کورس و اعضای آنرا بدست آورد.



مسابقه دوش زنان

روز یکشنبه مسابقه دوش (اتلاتیک خفیفه) زنان سنین مختلف که در استدیوم ورزشی کابل براه انداخته شده بود به تعداد ۵۲ ورزشکار طبقه اناث در این مسابقه اشتراک نموده بودند که مسابقه با صدای تفنگچه مخصوص آغاز گردید و در نتیجه نرگس دختر دوازده ساله یی اشتراک کننده این مسابقه توانست در مدت چهارده ثانیه و پانزده حصه ثانیه مسافه ۱۰۰ متر را طی کند که مقام اول را کسب نمود و پیروزی این دختر نوید دهنده آینده خوب برایش میباشد که این مسابقات برای انتخاب به عضویت تیم منتخب برای اتلاتیک زنان به راه انداخته شده بود و از جمله این ورزشکاران زن یک ورزشکار زن در مسابقات المپیک سال ۲۰۰۴ اشتراک خواهد نمود.

حمله بر نماینده‌گی UNHCR در کندهار

نماینده گی کمیساریای عالی سازمان ملل متحد درامور پناهنده گان UNHCR در کندهار شب سه شنبه مورد حمله افراد ناشناس قرار گرفت. حمله کننده گان با بمب دستی و شلیک چندین گلوله به این سازمان حمله کردند. که از اثرا آن دیوار محوطه ساختمان UNHCR اندکی تخریب شده است. مسئولان امنیتی کندهار گفته اند چنین فعالیت های به هدف ایجاد ترس و وحشت میان مردم انجام می شود. تا حال مسئولان محلی از هیچ گروه به عنوان مسئول این حمله نام نبرده اند. پیش از ین در ماه نومبر سال گذشته یک خانم فرانسوی کارمند این سازمان در ولایت غزنی به قتل رسید که با انجام این حمله UNHCR کارمندان خارجی خود را از تمام نماینده گی های جنوب شرق افغانستان بیرون کرد.

د دوو قومونو ترمنځ جګړه

دننگرهار ولایت دبهسودو په ولسوالۍ کې ددوو قومونو ترمنځ په جګړه کې ورمه ورځ پنځه کسان ټپیان شول.
پینبه هغه مهال رامنځ ته شوه چې دبهسودو په قاسم آباد کې ددولتي ځمکو دغصب او خپلولو لپاره دواړو قومونو دډیر انحصار هڅه کوله. چاراوکو په سیمه کې ویلي چې ټپیان یې دجلال آباد د عالي روغتیا روغنتون ته رسولي. ددواړو قومونو ځینې کسان چې په جګړه کې ښکیل وو امنیتي چاراواکو نیولي دي.
دیو بل خبر له مخې دوه ورځې وړاندې دننگرهار درودانو په ولسوالۍ کې یو مکتب دنامعلومو کسانوله خوا سوځول شوی دی او (۶۰) فیصده درسی لوازم یې له منځه وړي دي.

نامه وارده

اولتر از همه کامیابی شما کارکنان روزنامه را از خداوند کریم میخواهیم و بعداً مشکلی که ما کارگران کمپلکس ۱۸ طبقه یی داریم توجه مقامات مربوط را میخواهیم.
در قلب شهر کابل از طرف ریاست اتاق های وزارت تجارت یک کمپلکس ۱۸ طبقه یی به دستگاه ساختمانی افغان مربوط وزارت شهر سازی به اجاره داده شد که تاکنون تقریباً ۳ منزل اعمار گردیده.
دستگاه ساختمانی چند پروژه دیگر هم در شهر کابل تحت کار دارند. پول که از وزارت تجارت میگیرند بالای تمام پروژه های خود تقسیم می نمایند و کار های بطی خود را شروع مینمایند. در چشم وزارت های مربوطه خاک می اندازند ویک حصه آن را برای قراردادی های خود که مواد تعمیراتی آورده اند میدهند.
مشکل ما این است که معاش های ما کارگران نجاران و پهره داران از ماه میزان باقی مانده و میگویند.
وقتیکه از وزارت تجارت پول اخذ نمودیم معاشات شما اجراء خواهد شد.
اکنون از طرف ریاست اتاق های تجارت قرار داد مذکور با آن دستگاه به علل کار بطی آن فسخ میشود و کار پروژه هم توقف نموده میگویند معاشات شما در بهار اجراء خواهد شد.
ما از وزارت تجارت میخواهیم که به دستگاه افغانی از پول تادیه شده معاشات ما کارگران وضع و توسط نماینده خود که در کمپلکس موجود است اجراء نمایند و مشکل ما کارگران را در این زمستان یخ و قیمتی روز افزون مدنظر بگیرند.
از طرف کارگران کمپلکس ۱۸ طبقه یی در پل باغ عمومی

تلاش امریکا برای حفظ نیروهایش در عراق و افغانستان

اردوی امریکا برای تشویق سربازان امریکایی مستقر در عراق، کویت و افغانستان به ماندن در این کشورها، اعطای پاداش هایی را به آنها پیشنهاد کرده است.
اردوی امریکا به سربازانی که دوره ماموریت آنها پایان یافته، پیشنهاد کرده که برای یک قرارداد سه ساله دیگر تا ده هزار دالر پاداش بگیرند.
آن دسته از سربازان امریکایی که قرار بوده ماموریتشان در عراق، کویت و افغانستان طی ماه های آینده پایان یابد، نیز قرار است دیرتر از موعد مقرر از این کشورها خارج شوند.

یکی از سخنگویان اردوی امریکا گفت این اقدامات برای حفظ توازن و کارآمد جنگی واحدهای مستقر در این کشورها لازم است.
خبرنگار بی بی سی در محل وزارت دفاع امریکا، پنتاگون، می گوید این موضوع، نشانگر فشارهایی است که به دلیل عملیات اردوی امریکا در عراق بر این اردوی وارد آمده است.

باز تاب قانون اساسی....

آمادگی آلمان را برای ادامه کمک و مشارکت در بازسازی افغانستان اعلام کردد.
یوشکا فیشر، وزیر امور خارجه آلمان، گفت قانون اساسی افغانستان مظهر اراده شجاعانه ملت افغانستان است و این قانون بستر لازم را بسوی دموکراسی و تأمین حقوق بشر در افغانستان فراهم کرده است.
وی افزود این امر دارای اهمیت بزرگی است که در این قانون انتخابات عمومی و آزاد و با روش دموکراسی در نظر گرفته شده است و همچنین برخلاف طرح نخستین تساوی حقوق زن و مرد محکمتر شده است.
هایده ماری ویچسورک تسویل، وزیر همکاریهای اقتصادی و امور توسعه آلمان، از تصویب این قانون استقبال کرد و آنرا گامی شجاعانه در راه بازسازی سیاسی افغانستان نامید.
وی گفت مهم این است که رعایت حقوق بشر و به ویژه حقوق زنان در قانون اساسی افغانستان ثبت شده است.
آلمان برای کمک مالی به افغانستان بالغ بر ۳۲۰ میلیون یورو تا سال ۲۰۰۵ اختصاص داده است.
رسانه های آلمان نیز در گزارش ها و تحلیل های مفصل خود تصویب قانون اساسی افغانستان را نشانه بزرگ رشد فکری افغان ها و درس گرفتن از تجارب خونین ۲۵ سال جنگ های داخلی این کشور می دانند.

مقامات چین هزاران پشک را خواهند کشت

وزارت صحت چین تایید کرده است که یک مرد مشکوک به ابتلا به بیماری کشنده سارس، واقعاً مبتلا به این بیماری است.
از زمان اعلام پایان شیوع بیماری سارس در سال گذشته، این اولین مورد از این بیماری در چین است.
این مرد که سی و دو ساله و ساکن ولایت جنوبی گوانگ دونگ است، در ماه دسامبر، سال گذشته، بیمار شد.
تایید ابتلای او به سارس در حالی صورت می گیرد که مقامات چین اعلام کردند تصمیم دارند هزاران پشک را بکشند.
محققان در هانگ کانگ گفته اند میان تازه ترین مورد سارس و ویروس مشابهی در پشک ها، ارتباطی یافته اند.
دولت چین قصد دارد ده هزار پشک را بکشد و بازارهای ولایت گوانگ دونگ را که در آن حیوانات برای مصرف غذایی تجارت می شوند، تعطیل کند.
سازمان صحی جهانی می گوید اکنون باید تحقیقات بیشتری درباره چگونگی احتمال انتقال این ویروس از حیوانات به انسان صورت گیرد.
در همین حال در کشور فیلیپین نیز زنی که به تازگی از هانگ کانگ بازگشته، مشکوک به ابتلا به سارس است.
این زن و شوهرش در شفاخانه یی در مانیل، پایتخت فیلیپین، در قرنطین به سر می برند.
یک مقام فیلیپین گفت دو فرزند این زوج نیز تحت قرنطین قرار خواهند گرفت.
سال گذشته و در جریان شیوع جهانی بیماری سارس، فیلیپین دوازده مورد از این بیماری را اعلام کرد که دو مورد از آنها کشنده بود.
سال گذشته، هشتصد نفر در سراسر جهان در اثر بیماری سارس جان خود را از دست دادند

انتقال پایتخت از تهران بررسی می شود

در پی وقوع زلزله ویرانگر بم برخی از مقامات ایرانی احتمال بررسی انتقال پایتخت از تهران به نقطه دیگری از کشور را مطرح کرده اند.
حسن روحانی، رئیس شورایعالی امنیت ملی، گفته است که این شورا تصمیم گرفته طرح انتقال پایتخت از تهران را، که بیش از ده سال پیش مطرح شده و به دلیل عدم همکاری برخی نهادها مسکوت مانده بود، مجدداً مورد بررسی قرار دهد.
به گزارش خبرگزاری دولتی ایران - ایرنا - آقای روحانی افزوده است که "شورای عالی امنیت ملی در جلسه شنبه آینده خود طرح های میان مدت و دراز مدت انتقال پایتخت به نقطه ای دیگر را با جدیت بیشتری بررسی خواهد کرد چرا که از نظر شورایعالی امنیت ملی، تهران به دلیل قرار گرفتن روی خط زلزله برای پایتخت بودن مناسب نیست."
به گفته آقای روحانی، چند سال قبل چارچوبی برای تغییر پایتخت تعیین و پنج نقطه دیگر کشور برای این منظور پیش بینی شد و در حال حاضر، زمینه برای ادامه بررسی این طرح فراهم شده است.
درمقابل، عبدالله رمضان زاده، سخنگوی دولت، در مصاحبه با رسانه ها طرح بحث جدیدی در باره انتقال پایتخت را تکذیب کرده است.
آقای رمضان زاده گفته است که "از سال ۱۳۶۸ این موضوع مورد بررسی بوده است و متخصصان به نتیجه جدیدی نرسیده اند."
از سوی دیگر، جعفر گلباز، سخنگوی کمیسیون امنیت ملی و سیاست خارجی مجلس، گفته است که انتقال پایتخت از تهران مسأله ای ضروری است و مجلس آمادگی دارد طرح انتقال پایتخت به مناطق کم خطرتر در برابر زلزله را بپذیرد.
وی در ضمن انتقال پایتخت را راه حلی برای مشکلات دیگر تهران، از جمله آلودگی هوا و ترافیک شهری، دانسته است.

با ایران در مورد عراق اهداف مشابه داریم

جرمی گرینستاک، نماینده خاص بریتانیا در بغداد با سفر به ایران با مقامات این کشور دیدار و گفتگو کرده است.
این اولین سفر آقای گرینستاک به یکی از همسایگان عراق است.
وی گفت ایران اگر می خواست می توانست در روند ثبات عراق اختلال ایجاد کند اما او معتقد است اکنون که تاریخ برای تحویل حکومت عراق به خود عراقی ها تعیین شده، ایران از تحولات آن کشور آرامش خاطر بیشتری یافته است.
به گفته خبرنگار بی بی سی، سفر آقای گرینستاک را می توان به رسمیت شناخته شدن تلویحی این موضوع تلقی کرد که ایران نسبت به دیگر همسایگان عراق، تاثیر بیشتری بر تحولات این کشور دارد.
نماینده خاص بریتانیا در عراق پس از گفتگو با وزیر امور خارجه، معاون وزیر اطلاعات و دیگر مقامات ایرانی گفت برای آنها توضیح داده است که هدف نیروهای مستقر در عراق ایجاد یک کشور متحد و موفق است.
وی افزود در این گفتگوها مشخص شد که: "همگی در عراق اهداف بسیار مشابهی داریم."

In This Issue:

1- UNHCR Workers Attacked In Kandahar
2- Conflict Between Two Tribes
3- Us Army Battles To Keep Soldiers
4- Iran Considers Moving Capital
5- Ten Killed In Kandahar
6- Complains From Australia About Refugees
7- American Force Arrests Some People
8- Concerns On Security Of Malalai Joya
9- Nadir Shah Kot District Attacked
10- One Killed, Forty Injured
11- Reflection Of Afghan Constitution In Germany
12- Sports Page

اراده
زیر نظر هیات تحریر انتشار مییابد
مؤسس وصاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول : ظهور افغان
روزنامه آزاده وملی نشریه مرکز نشرات افغان
اندیشه و عقاید مطرح شده از سوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوزودیزاین : صدیق الله "صادق" و عزیز الرحمن "گوهر"
چاپ: مطبعه مرکز نشرات افغان
قیمت یک شماره ۲ افغانی

اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
آدرس: پروان مینه (سینمای بهارستان سرک مسجد حاجی میر احمد)خانه نمبر ۹۵
تیلیفون موبایل: ۰۷۰۲۲۴۷۸۷

ERADA Daily
Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Zuhoor Afghan
Mobil Phone: 070224787
eradadaily@hotmail.com